## صاحب

هغه شخص دی چې نسبت نوروته دې د مال یا حقوقو مالك وي. دری: [صاحب]

## صادراتي اعتبار

هغه مبلغ دی چې د عامل بانك له خوا د اخیستونکي او یا خرڅوونکي د غوښتنې لـه امله، د سندونو د اعتبار د پرانستلو، د ضمانت لیکونو د صادرولو، د بها لرونکو سندونو د منلو او ظهر نویسی او د قرارداد د موضوع د بیې د ورکولو په منظور لګول کیږي.

دری:[اعتبار صادراتی]

## صادراتي محصول

د مالونو پـه صادرولو بانـدې ګمرکي محصول دی.

دری:[محصول صادراتی]

## صارفه قرینه

هغه قرینه ده چې د بلې قوي قرینې په موجودیت کې لـه هغې نه انصراف کیږي. دری: [قرینه صارفه]

## صانع

هغه شخص دی چې د استصناع د عقد پر مهال د عقد د موضوع د شي د جوړولو پـه اړونـد تعهد کوي.

دری:[صانع]

## صحیح

هغه چې په اصل او صفتونو کې مشروع او د موانع څخه پرته شئ خپل د حکم افاده کوي. دری: [ صحیح]

## صحیح التصرف

هغه شخص چې د قانوني او شرعي اهلیت د اوصافو د لرلو پر اساس صحیح التصرف ګڼل کیږي.

دری: [صحیح التصرف]

## صحیح جد

له هغه جد څخه عبارت دی چې له هغه سره د شخص د قرابت پـه سلسله کې ښځه واقع شوې نـه وي.

دری: [جد صحیح]

## صحیح دفع

صحیح دفع له هغې ډول مدافعې څخه عبارت ده چې د هغې په واسطه د مدعي دعوی په واقعي توګه لـه منځه ځي. دری: [دفع صحیح]

## صحیح عقد

هغه عقد دی چې په وړاندوینه شویو قانوني شرطونو سره سم یې انعقاد موندلای وي. دری:[عقد صحیح]

## صحیح وقف

چې د موقوفي عین د واقف تام ملکیت وي.

دری: [وقف صحیح]

## صحیحه اطلاع

هغه اطلاع چې د هغې صحیح والی په عمل کې د دلایلو په واسطه ثابتیږي. دری: [اطلاعیۀ صحیح]

## صحیحه بیع

هغه بیع ده چې د ذات او صفت لـه مخې مشروع وي.

(بیع ته دې مراجعه وشي). دری:[ بیع صحیح]

## صحیحه خلوت

د واده له شرعي صحیح عقد څخه وروسته، د میړه او ښځې یوځای کېدل په یو داسې ځای کې دی چې پرته له اذن څخه د نورو اشخاصو د راننوتلو څخه په امن کې وي، او هم د هغوی د مقاربت لپاره کوم حسي، شرعي، او طبیعي خنډ شتون ونه لري. دری: [خلوت صحیحه]

## صحیحه دعوی

هغې دعوی ده چې پـه هغې کې د دعوی عمومي او خصوصي شرطونه رعایت شوي وي.

دری: [دعوی صحیح]

## صَدغ

د بدن هغې برخې ته ویل کیږي چې وربانديې د ضربې د لګېدو په صورت کې د شخص د مړینې امکان لا زیات متصور وي. دری: [صدَغ]

## صدقه

هغه مال دی چې د ثواب په موخه بښل کېږي.
دری:[صدقه]

## صرف

په نقدو باندې د نقدو بیعې ته صرف ویل کېږي.
دری:[صرف]

## صریح

هغه لفظ دی چې د هغې مراد کاملاً ظاهر وي.
دری: [صریح]

## صریح الفاظ

هغه الفاظ دي چې پرته د هغې معنی څخه چې په لغت او یا عرف کې د هغو لپاره کارول کېږي د کومې بلې معنی احتمال په هغې کې نه وي. دری: [الفاظ صریح]

## صریح شرط

هغه شرط چې په واضح او بلا شائبې توګه د یو عقد په انعقاد کې وضاحت موندلی وي. دری: [ شرط صریح]

## صریح طلاق

هغه طلاق دی چې په صریحو، څرګندو او روښانه الفاظو د میړه لخوا صادر شي. دری:[طلاق صریح]

## صریح نکول

هغه دی چې شخص صراحتاً د قضأ په وړاندې د لوړې (یمین) څخه ډډه وکړي. (نکول ته دې مراجعه وشي).
دری: [نکول صریح]

## صریحه الغاء

که لاحق (نوی) قانون وضع شي او په متن کې صریحاً د پخواني قانون الغا ذکر شوې وي، دې حالت ته صریحه الغا ویل کیږي. دری:[الغاء صریح]

## صریحه کوژده

هغه کوژده ده چې یو لوری د واضحو او روښانه الفاظو په کارولو سره چې د واده او نکاح پرته بله معنی ونلري، بلنه ورکوي. دری:[ نامزدی صریح]

## صریحه مطالبه

د یو شی غوښتل دي په واضحه توګه.
دری: [مطالبه صریحه]

## صریحه نسخ

هغه نسخه ده چې دوه یم صادر شوی حکم په صریحه توګه د داسی نص لرونکی وي چې پخوانې حکم له منځه وړي. دری: [نسخ صریح]

## صعب الحصول پور

له هغه پور څخه عبارت دی چې د ټکټانې او اصلي رقم موده یې پای ته رسیدلی وي او د قانوني مودې په نظر کې نیولو سره ورکول شوی نه وي او د ټکټانې زیاتوالی او تمدید ورسره وي. دری: [قرضه صعب الحصول]

## صغر سن (طفولیت)

هغه حقوقي او شرعي وصف دی چې د قانوني سن د نه تکمیلېدو تر نېټې پورې دوام مومي.
دری: [سن صغر (طفولیت)]

## صغیر

هغه شخص چې ټاکلی قانونی سن ته نه وي رسیدلی، صغیر دی. دری:[صغیر]

## صلاحیت لرونکي مقامونه

هغه مقامونه چې په بېلابېلو ادارو او حقوقي چارو کې د صلاحیت لرونکي دي. دری :[مقامات با صلاحیت]

## صلبي لور

د میت هغه لور ده چې هغی ته په مستقیمه توګه، پرته له کومې واسطي منسوبیږي. دری:[دختر صلبی]

## صلبی قریب
هغه چا ته ویل کېږي چې د هغه د قرابت سلسله له شخص سره په یوه درجه کې د یوه مشترک اصل لرونکی نه وي. دری: [قریب صلبی]

## صلح
هغه عقد دی چې د دوو اړخونو ترمنځ کړکېچ د هغوی د رایت له مخې له منځه یوسي. دری:[صلح]

## صنعتي ثمر
هغه حاصل دی چې د صنعتي عملیې په نتیجه کې لاس ته راشي. دری: [ثمر صنعتی]

## صنعتي ځنګل
هغه ځنګل دی چې له محصولاتو او لرګیو څخه یې په عمده ډول په صنایعو کې ګټه اخیستل کیږي. دری:[جنگل صنعتی]

## صنعتي ګټې
هغه منفعت یا ګټې دي چې د انسان د کار په اثر له طبیعي منابعو څخه د ګټې اخېستلو له لارې لاس ته راځي. دری:[منافع صنعتی]

## صنعتي مالکیت
هغه حق دی چې د قانون له احکامو سره سم له اختراع او تجارتي علامې څخه انحصاري ګټه اخلي. دری: [مالکیت صنعتی]

## صنعتی اثر
هغه اثر ته ویل کېږي چې د فن او تخنیک په واسطه ابداع او ابتکار شوی وي. دری: [اثر صنعتی]

## صنفي ټاکنې
هغه ډول ټاکنې دي چې په هره ټاکنیزه حوزه کې هغه اشخاص چې صنف یا ټاکلې طبقه یې رامنځ ته کړې، د وکیل یا نایب د ټاکلو حق ولري. دری: [انتخابات صنفی]

## صنفي جرمونه (سرغړونې)
هغه جرمونه او سرغړونې دي چې د یوه ځانګړي شغل د صنف د اصولو او مقرراتو څخه د سرغړونې په پایله کې رامنځته شوي وي. دری:[جرایم(تخلفات)صنفی]

## صنفي جواز
هغه چاپي پاڼه ده چې د کسبګرو او صنعت کارانو د بېلابېلو ټولګیو د فعالیت د ترسره کولو په مقصد د اړوندو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم وېشل کیږي. دری: [جواز صنفی]

## صوابدید
د یو امر د لازم والي په معنی کارول کیږي.
دری: [صوابدید]

## صوري (معنوي) تعدد
هغه تعدد چې واحد فعل متعدد جرمونه منځ ته راوړي.
دری:[ تعدد صوری یا معنوی]

## صوري ید
محسوس تصرف ته صوري ید وایي. (ید ته دې مراجعه وشي). دری: [ید صوری]

## صیانت
هغه حق دی چې د هغه په موجب د اشخاصو مالونه او ملك د هر نوع تعرض نه مصئون او د قانون له حکم سره سم په حفاظت کې وي. دری: [صیانت]

## صیغه
هغه لفظ دی چې د خلکو د تعامل او له قانوني احکامو سره سم د عقدونو په انعقاد کې استعمالیږي.
دری: [صیغه]